# د بخت نامې داستان او د اولس مجلې کوټې بیان

# ACCOUNT OF BAKHTNAMA & THE ULAS JOURNAL QUETTA

حافظ رحمت نیازی*

**Abstract**: Most of the historical accounts had been witnessed to have compiled by the courtlers time to time according to the wishes of the rulers/ extortioners. Particularly when they had been challenged by the heroes of the irredenta.

Bakhtnama, pashtoon women was also considered a valiant woman extolled in the folk literature. She is said to be incarcerated in Mach Jail by the then British rule before the division of subcontinent in a murder case. This historical and tragic event has been narrated by assorted writers.

The author of this paper pointed out new aspects of her incident in the light of valid and authentic arguments including the statement of the eye witnessed Khan Abdul Samad Khan Shaheed.

له بدغه مرغه د پښتنو د نسل تاریخونه، د پښتنو د ملي اتلانو کارنامې او د پښتنو د ثقافتي رویو پۀاړه لومړني تحقیقات د نورو ژبو لیکوالانو کړي دي او پۀ داسې انداز کښې یې وړاندې کړي دي چې ځینې ځېړنې د سړي تر سترګو شي نو بې اختیاره یې لاسونه غوږونو ته پورته کېږي او د توبې کلمات تکرار کړي. د تاریخ فرشته مؤرخ قاسم فرشته، د تاریخ خان جهان مؤرخ نعمت الله هروي او دغسې د آئین اکبري مؤرخ ابو الفضل چې د پښتنو پۀ باره کښې کومې بې لګامه خبرې د تاریخ برخه ګرځولي دي هغه تقریباً د تاریخ پوهانو یا تاریخ شوقیانو تر نظر تېرې شوې دي. ځینو مستشرقینو خو د پښتنو د ثقافتي اړخونو پۀ باره کښې د پښتنو د اودس وچولو پۀ باره کښې هم خپله رایه قائمه کړې ده چې دلته یې ذکر کول مناسب نۀ ګڼم.

د محمد هوتك د پټې خزانې پۀ اصطلاح د یوې مېړه مخې ښځې له درده ډك داستان خبر نۀ یم چې عبدالرحمٰن غور د کومې ژبې لیکوال دی خو د دغې

پښتني پهٔ باره کښې يې داسې له ناترسۍ ډکه تاريخي قصه ليکلې ده چې د پښتنو و پښتني غرور، ننګ، مېړانې، له عقيدت او مينې ډك ژوند ته يې تاوان رسولی دی او د بخت نامې او امير جان شخصيت يې پهٔ نابلده بڼه کښې څرګند کړی دی. خو تاريخ وخت پهٔ وخت پهٔ حقيقي بڼه کښې ځان ښکاره کوي او داسې مؤرخين پيدا کېږي چې هغه د تاريخ له څېرې څخه تور داغونه د خپلو تحقيقي هڅو پهٔبنياد صفا کوي. د بختنامې د مچ د جېل داستان به شايد چې ډېرو پښتنو د عبدالرحمٰن غور پهٔ مقاله کښې لوستی وي دی ليکې:

"بخت نامه د ضلع ږوب پهٔ يوهٔ ګمنام کلي کښې پيدا شوه، د قبايلي رواج مطابق پهٔکوچنيوالي کښې د دې وادهٔ د قبيلې د يوهٔ ځوان امير خان کاکړ سره وشو، امير خان همېشه د انګرېزانو خلاف جنګېدئ، اخير يوه ورځ انګرېزانو پهٔ دوکه سره دی ګرفتار کړ او پهٔ قيد کښې ئې واچاوهٔ، بخت نامه يې د کلي مقامي مشرانو پهٔ حواله کړه. د بخت نامې زړهٔ پهٔ دې پېښه باندې ډېر متاثر شو او دې دا عهد وکړ چې هرڅهٔ چې وي خپل مېړه به د انګرېزانو د قيد څخه خلاصوم، نو ځکه دا د موقعې پهٔ تلاش کښې وه او د يوهٔ ساعت دپاره يې خپل مېړه د زړهٔ څخه نهٔ وتلئ، د امير خان يادونه به د دې پهٔ زړهٔ کښې تلله راتلله يو ځای د دهٔ پهٔياد کښې وايي:

راشه چې پهٔ زلفو کښې دې پټ کړم
چې دښمنان دې پهٔ لټولو ستړی شينه

....يوه ورځ يو انګرېز افيسر د کلي مشر*پهٔکور کښې مېلمه شو، بخت نامه هم و هغه مشر ته د حفاظت دپاره ورسپارل شوې وه، څهٔ وخت چې بخت نامې انګرېز مشر د هغه مشر پهٔ خونه کښې وليدئ نو بخت نامې خپل جذبات له لاسه ورکړل او د کلي مشر څخه يې پوښتنه وکړه چې دغه فرنګی دلته څهٔ کوي، او د څهٔ دپاره راغلی دی؟ ...عبدالرحمٰن غور مخ ته پسې ليکي:

اخير دې پهٔ خپله دغه مسئله حل کړه، د دې پهٔ يوهٔ غوږ کښې به اکثر تکليف ؤ د ټولې شپې د بې خوبۍ پهٔ وجه دغه تکليف نور هم زيات شو. دې ته دغه

موقعه پهٔ لاس ورغله او د کلي د مشر څخه يې اجازت واخيست چې د قلعه سيف الله پهٔ هسپتال کښې د خپل غوږ علاج وکړي نو دوه سړي يې د دې سره ملګري کړو. څه وخت چې روانېده نو دې پهٔ پټه د هغه مشر توپنچه د ځان سره واخيسته او د کلي مشر پهٔ دې خبر نهٔ ؤ او دغسې دا د دوو تنو سره قلعه سيف الله ته روانه شوه.... د دې ملګرو د دې څخه اجازت واخيستلئ دا ئې د هسپتال پهٔ برامده کښې پرېښووه او پهٔ خپله بازار ته ولاړل، نو دا د افيسرز ريسټ هاؤس پهٔ خوا روانه شوه... او پهٔ درې سره انګرېزانو يې ټکان وکړل، دغسې درې سره انګرېزان مړهٔ شول او يو سيك زخمي شو.... بيا بخت نامه ونيول شوه او د شلو کالو د قيد سزا ورته واورول شوه. هغه وخت حالات داسې ؤ چې انګرېز غوښتل چې بختنامه مچ جېل ته بوزي، لاکن د قبايلي رجحاناتو پهٔ وجه دوی داسې جرات نهٔ شو کولی...."(1).

د عبدالرحمٰن غور له تحقيقه موږ دا نتيجه اخذ کولی شو چې بختنامه جېل ته ځکه ولاړه چې دې د امير جان د راخوشي کېدو هڅه کوله خو هغه يې را خوشی نهٔ کړ او دې د هغه پهٔ بدل کښې پهٔ انګرېزانو ټکان وکړل او هغه مړهٔ شول او بختنامه قيد شوه د شلو کالو د جېل کېدو سزا پر وختله.

پهٔ حقيقت کښې بخت نامه د خپل محبوب امير جان د خوشي کېدو دپاره دې ته نهٔ وه تياره شوې چې انګرېز ووژني ځکه چې د ښځې او خاوند تر مينځ داسې ډېر داستانونه شته چې پهٔ کلو کلو د ښځې خاوند پهٔ جېل کښې وي او ښځه ورته انتظار وي او بله دا چې که د بخت نامې له امير جان سره وادهٔ شوی وای نو به د کلي مشر زرغون خان ته ولې سپارل کېده دا د پښتنو د رواياتو خلاف کار دی چې د ښځې دې خپل کور يا د خسرګنۍ کور وي نو دا دې د بل پهٔ کور کښې بندۍ وي او نهٔ ملك زرغون خان داسې کول چې پښتنه ښځه دې پهٔ خپل کور کښې پهٔ دې خاطر کښېنولې وي چې انګرېز حکومت ورته سپارلې وي، له دې معلومېږي چې بخت نامه له کوره له امير جان سره پهٔ مرضي راغلې وه او پښتانهٔ دا نهٔ شي برداشت کولی چې لور يا خور دې له چا سره ولاړه شي او بيا دې دوئ بېرته کور ته پرېږدي نو پهٔ حقيقت کښې بخت نامې پهٔ قصد د انګرېز د وژلو اراده وکړه چې يوازېتوب او له چا سره د نکاح نهٔ کول يې مقصد ؤ، دا ولې پهٔ دې اړه به وروسته د محققينو رايه هم

راشي او اصل علت به هم پۀګوته شي. پۀ دغه حواله سيد خير محمد عارف هم د پښتني رواياتو او اقدارو پۀ حقله څۀ ذکر نۀ دی کړی او اصل مسئله له دې پېښنه شوې ده چې دوی دواړو بخت نامه د امير جان کورودانۍ ګڼلې ده، البته ورستو خير محمد عارف د خپلې تېروتنې تصحيح کړې ده چې ذکر به يې ورسته راشي. خو د هغې له امير جان سره پۀ حقيقت کښې د مينې تعلق ؤ او د پښتني اقدارو مطابق چې پېغله ښځه له چا سره ولاړه شي نو بيا يې پلارګنۍ، ېېرته نۀ ورپرېږدي او خسرګنۍ هم تر هغو پورې د هغې ښځې اوسېدو ته تيار نۀ وي تر څو چې د دوی مسئله د مرکې يا جرګې له لارې حل شوې نۀ وي، نو چې دواړو خواوو ته د بخت نامې د تللو ګنجايش پاته نۀ شو څکه سردار زرغون خان جوګيزي پۀ خپل کور کښې پناه ورته ورکړې وه او دغه د پناه دود پۀ پښتنو کښې له پخوا څخه تر اوسه پورې را روان دی.

ښاغلي سيد خير محمد عارف پۀ پاڅون مجله جلد شپږم مارچ او اپرېل 2011ء کښې د بختنامې او امير جان د داستان تاريخي غلطۍ او د بخت نامې او امير جان پۀاړه د ماينې او خاوند تعلق د خان شهيد د سترګو له ليدلي حاله سمې کړې وې او وضاحت يې کړی ؤ چې دغه تاريخ څه پۀ دې ډول دی:

"دلته بايد دا هم وليکم چې ما پۀخپل کتاب "زمونږ غازيان او شهيدان" کښې د بخت نامې د غزا کولو کال 1941-42ء اټکلولی ؤ خو خان شهيد د بخت نامې محبوب امير جان پۀکال 1931ء کښې د مچ جېل کښې پۀ خپلو سترګو وينې چې غالباً دغه پېښنه ترې هم پخوا واقع شوې ده بيا چې کله پۀکال 1934ء کښې خان شهيد د مچ جېل ته ورورې نو هغه وخت هم بخت نامه پۀ مچ جېل کښې د بندۍ پۀ حېث د ژوند شپې سبا کوي خو د هغې محبوب اميرجان انګرېزانو پۀ وهلو ټکولو باندې وژلی وي"(2).

د پښتو ژبې د يو بل څېړندوی محمد ولي زلمي له افغانستان څخه چاپ شوی کتاب "زمونږ غازيان" چې پۀ 1368هـ کښې چاپ شوی دی او د بختنامې داستان يوه کړی يې پۀ ډېره مختصره توګه داسې بيان کړې ده چې تقريباً د بخت

نامې له قید کېدو دوه کاله وروسته خان شهید بیا جېل ته ځي او د بخت نامې له حاله خبرېږي:

"بخته [بختنامه] د هندوباغ سنځر خېله کاکړه ده چې پۀ یوازې سر یې پۀ1930 ء کښې د وطن او قوم د غلیمانو سره جګړې کولې او ملي احساسات یې را پارول، دا پۀ1932ء کښې انګرېزانو ونیوله او پۀ مچ کښې ئې بندي کړه. ډېرې غاړې پسې وئیل شوي دي:

قام دې پرې سي پر نیمې
بختنامه مچ ته وړې پېکې"(3)

پۀ پورتنۍ حواله کښې که څۀ هم د بختنامې نوم بخته لیکل شوی دی خو دا پۀ اصل کښې بخت نامه ده چې وروسته یې نوم پۀ غاړه کښې پوره اخیستل شوی دی، دا هغه غاړه ده چې له بختنامې سره نسبت لري.

سید خیر محمد عارف د تاریخي تېروتنې او د امیر جان پر ځای د امیر خان ذکر پۀ واضح ټکو کښې کړی دی مګر د یوې داسې تېروتنې ازاله یې نۀ ده کړې پۀ کوم چې د بختنامې ټول داستان بې حسه او بې روحه پاته شوی دی او هغه دا چې بختنامه د امیر جان پۀ ژوند جېل ته نۀ ده تللې او د هغۀ پۀ ژوند د بختنامې جېل ته تلل پۀ داستان کښې دومره اضطرابي کېفیت نۀ پیدا کوي لکه کوم حقیقي حال چې خان شهید بیان کړی دی چې کله امیر جان پۀ جېل کښې د وهلو او ټکولو وروسته وفات شو او بختنامه د دۀ پۀ مړینې خبره شوه نو یې دا عزم وکړ چې د امیر جان له غم سره بل داسې بنۀ ځای نشته چې زۀ ورسره مشغوله یم بس هم دغه جېل دی چې هلته یوازې شم د امیر جان له غم سره پۀ یوازې سر ژوند تېر کړم. پۀ هم دغه سوب یې انګرېز تر ژوند تېر کړ او ځان یې خپل مقصد ته ورساوۀ.

سید خیر محمد عارف د خان شهید زما ژوند او ژوندون وئیلی دی او د بختنامې پۀ داستان کښې چې خان شهید کوم د سترګو لیدلی حال بیان کړی دی هغه یې هم وئیلی دی خو پۀ زموږ غازیانو او شهیدانو کښې د چاپ شوي مضمون

نورې تېروتنې به هم پۀ نظر ورغلې وي هغه به يې هم پۀ ګوته کړې واى ځکه چې له لويو محققينو خو د ډېر څۀ هيله کېداى شي شايد پۀ دغه داستان کښې به داسې باريکې نکتې نورې هم واى چې پۀ هغو نکتو به له عارف صاحب علاوه ډېر کم کسان پوهېدل او ورسره به د عبدالرحمٰن غور د مضمون اصلاح هم پۀ شوې واى. د يوې تېروتنې ذکر سيد خير محمد عارف کړې دى چې ما بختنامه د امير جان کورودانۍ ګڼلې وه. د دې يې نور وضاحت نۀ دى کړې چې پۀ اصل کښې د بختنامې له امير جان سره کوم تعلق ؤ، دې لړ کښې يقيناً چې لوستونکې دهغه پۀ ليك کښې تشنګي محسوسوي، خو وروسته يې د خان شهيد ليکل شوې کېسه ذکر کړې ده دغه خبره له هغه داستان څخه پۀګوته شوې ده.

د امير جان او بخت يو له بل سره د تعلق پۀ حواله لومړى د عبدالرحمٰن غور ليکنه، بيا د سيد خير محمد عارف ليکنه وروسته د خان شهيد هغه د امير جان له خولې اورېدلى حال ذکر کول ضروري ګڼم. عبدالرحمٰن غور ليکي:

"بخت نامه د ضلع ژوب پۀ يوۀ ګمنام کلي کښې پيدا شوه... دا د خپلې قبيلې ډېره زړۀ وره او ښايسته مېرمن وه، د قبايلي رواج مطابق پۀکوچنيوالي کښې د دې وادۀ د قبيلې د يوۀ ځوان امير خان کاکړ سره وشو، امير خان همېشه د انګرېزانو خلاف جنګېدۀ اخير يوه ورځ انګرېزانو پۀ دوکې سره ګرفتار کړ"(4).

ښاغلى سيد خير محمد عارف د امير جان او بختنامې د رشتې پۀ حواله ليکي:

"بخت نامه کاکړه وه پۀ کاکړو کښې د سنزرخېل له يوه ښاخ خوئې داد زيو سره يې تعلق ؤ د هغې خاوند امير خان نومېدۀ چې سنزرخېل جلال زى ؤ. امير خان د يوۀ ناحقه الزام تحت نۀ صرف انګرېزانو بندي کړى ؤ بلکې د مچ جېل ته يې لېږلى ؤ. پۀ دغه لړ کښې بخت نامې څو ځله درخواستونه ليکلي وو او و انګرېز سرکار ته يې ورکړي وو چې زما خاوند برناحقه پۀ جېل کښې بندي شوى دى"(5).

خان شهيد د بخت نامې او امير جان د رشتې پۀ اړه د امير جان د خولې وئيلى حال وايي او دا هغه کلونه دي چې خان شهيد هم د مچ پۀ جېل کښې دى او

امیر جان هم. د افغانستان د علومو اکېډمۍ له خوا یو کتاب "زمونږ غازیان" چاپ شوی دی پهٔ هغه کښې د بختنامې د بندي کېدو تاریخ هم 1932ء ښيي او پهٔ دغو وختونو کښې خان شهید هم د خپلې پښتنې فکر پهٔ بنیاد او د پښتونستان د جوړولو د جذبې پهٔ تور د مچ پهٔ جېل کښې پهٔ څو څو واره بندي شوی دی، د دې خبرې وضاحت مې ځکه ضروري وبالهٔ چې ځینې لیکوال دا پوښتنه کوي چې خان شهید پهٔکومه حواله دا خبره کوي چې دغه داستان یې پهٔ خپل کتاب کښې ذکر کړی دی خو دغه پوښتنې توليې د سیاسي بغض پهٔ بنیاد کېږي. خان شهید د سیاست له دنیا سره سره د ادب او علم له دنیا سره هم ډېر نزدې پاته شوی ؤ د سهار تر لمانځهٔ له مخه له خپله وتاکه روانېدل او پهٔ میلو میلو سفر کول او بیا مولانا ابو الکلام ازاد ته د علمي تندې پهٔ بنیاد ځان رسول چې د علم د خاوند کار نهٔ وي نو نور به څوك داسې وکړي؟ او د خان شهید تصانیف چې څوك وګوري نو تر ډېرو سیاسي شخصیاتو یې پهٔ ادبي او مذهبي حواله ډېر کار کړی دی، بهرحال خو کله یې له امیر جان سره پهٔ جېل کښې خپله خبرې شوې دي او کله بیا بالواسطه د بختنامې داستان ورته اورول شوی دی. هم دغه حال یې پهٔ رښتیا سره لیکلی دی او د دوی دواړو د رشتې پهٔ اړه لیکي:

"خبره تر دې ناپېښه وله یو وخت زهٔ بې پامه د دهٔ تر شا تېر شوم څهٔ کار مې ؤ چې و مې کاتهٔ د دهٔ د پنسورې پر مخ څهٔ اوړدهٔ وېښتان پراتهٔ وو او دهٔ څهٔ لوستل نهٔ لغړ یې هغو ته کتل، زهٔ ډېر هك پك پاته شوم چې دا لا څهٔ دي. ګمان مې شو چې چا تګ به خطا ایستلی وي او څهٔ کوډې موډې به یې ورښوولې وي ځکه چې بېرته راغلم تپوس مې ترې وکړ چې تهٔ لوستی یې که نهٔ؟. دی پوه شو چې دهٔ زما پنسوره لیدلې ده څهٔ هان هو جواب یې راکړ او چې ما نېغ تپوس ترې وکړ چې دا وېښتان څهٔ دي نو یې وئیل خانه! دروغ نهٔ شم درته وئیلی خو چا ته به وایې نهٔ، دا جېل دی هسې نهٔ چې څهٔ تاوان را ورسیږي او یا دا لړ ډېر ساتېری هم راباندې ودریږي. ما وئیل ښهٔ نهٔ به وایم، وئیل یې نهٔ لوستی یم او نهٔ څهٔ لولم دا د هغې ښځې وېښتان دي د چا پر سر چې زهٔ بندي یم چې جېل ته راتلم د ننباني پهٔ توګه مې ترې راوړل، ښځه بخت

نامه نومېدله، دۀ را تبنتولې وه پۀ لارې نيول شوی ؤ دی بندي شوی ؤ او هغه پاته او د دۀ دپاره د يوۀ سردار پۀ کور کښې ناسته وه"(6).

د خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزي له خولې دا خبره پۀ ډاګه کېږي چې د بختنامې او امير جان تر مينځ تعلق د مېرمنې او خاوند نۀ بلکې د دوی د پاکې او رښتونې مينې تعلق ؤ او دغه د مېړه او ښځې پۀ مينځ کښې له مرګه وروسته بيا هم دا ګنجائش وي چې ښځه بل ځای وادۀ وکړي او له هغه پخواني سړي څخه يې سوکه سوکه زړۀ صبر شي خو د مينې تعلق دومره جذباتي کېفيت لري چې د ټول عمر دپاره د دوو مينو زړونه يو له بل سره تړلي وي او پۀ منځ کښې درېيم څوک نۀ قبلوي، که خدای مه کړه کله کله داسې مسئله مينځ ته راشي چې د جدائي يا مرګ ماحول ځينې جوړ شي نو پای هغه هم د بختنامې د وروستني ژوند کېفيت ته ورسيږي او نور د ژوند کولو خواهش نۀ کوي او غواړي چې بس پۀ يو داسې ځای کښې پاته عمر تېر کړي چې د خپل ملګري له غمونو سر لاس ترغاړه پاته شي. د بختنامې هم جېل ته تر تلو له مخه دغسې کېفيت ؤ.

د خان شهيد له خولې د کلي د هغۀ مشر نوم هم معلوم دی چې سيد خير محمد عارف او عبدالرحمٰن غور يې نوم نۀ دی ذکر کړی دی خان شهيد ليکي:"دا ځوانه ښکلې او ډېره سوکړه ښځه وه نور خو پرېږده خپله سردار زرغون خان جوګيزی دې ته ناست ؤ چې دا د ځان کړي ځکه دې د ډېره سوچه پس دا پرېکړه کړې وه چې زۀ د امير جان غم ته بل ځای نۀ شم اوزګارېدلی بې جېله او جېل له ما څوک نۀ بيايي تر څو چې ما ډېر غټ تور پۀ زياته بيا سرکاري تاوان نۀ وي کړی"(7).

ښاغلی سيد خير محمد عارف د دغې تاريخي تېروتنې وضاحت کړی دی مګر د دوی کتاب "زموږ غازيان او شهيدان" کښې دا خبره کړې ده چې پۀ اولس مجله کښې غالباً د دسمبر 1961ء پۀګڼه کښې د عبدالرحمٰن غور د مضمون ذکر کوي چې هغه د اکتوبر 1975ء پۀ ګڼه کښې پۀ37م مخ راغلی دی نو ښۀ به وای چې سيد خير محمد عارف دغه ګڼه پيدا کړې وای او د عبدالرحمٰن غور د مضمون نورې نيمګړتياوې يې هم پۀ ګوته کړې وای د مثال پۀ توګه عبدالرحمٰن غور ليکي:

"د دې ملګرو د دې څخه اجازت واخستئ دا يې د هسپتال پۀ برامده کښې پرېښوه او پۀ خپله بازار ته ولاړه نو دا د افيسرز ريسټ هاؤس پۀ خوا روانه شوه... او پۀ درې سره انګرېزانو يې ټکان وکړل، دغسې درې سره انګرېزان مړۀ شول او يو سيك زخمي شو".(8)

ښاغلی خير محمد عارف د انګرېز يا انګرېزانو د وژلو پۀ حقله له عبدالرحمٰن غور څخه مختلف رايه لري او ليکي:

"بختنامه له هسپتال څخه پټه ووته، سرکټ هاؤس ته ورغله پۀ سرکټ هاؤس کښې هغه حاکم هم موجود ؤ چا چې د بختنامې جائز درخواست پۀ حقارت سره ټکراؤ کړې ؤ. بختنامې دلته هم و متعلقه افيسر ته خواست او زاری وکړې چې زموږ کور ويجاړ شو، له ما سره انصاف وکړه او امير خان را پرېږده، خو هغه حاکم او د هغۀ ملګري پۀ هغه ډول پر خپله خبره ولاړ ؤ. او بختنامې ته يې سکرټ جواب ورکړو، بختنامې ته بله لاره نۀ شوه ورپاته هغه توپنچه يې را وايسته، پر انګرېز او سيك باندې يې ټکان وکړل، سيك او انګرېز دواړه ولګېدو چې اخير انګرېز مړ شو او سيك شديد زخمي شو:

"سور ده مړ کئ سيك زخمي
بخت نامې ځان ده کئ غازي
ښۀ ده دا تر اوس مړونه
بخت نامې سرۀ ده کړو لاسونه"(9)

د عبدالرحمٰن غور پۀمضمون کښې معلومېږي چې بختنامې درې انګرېزان وژلي وو مګر د سيد خير محمد عارف پۀمضمون کښې د دريو انګرېزانو د وژلو ذکر نشته بلکې يو انګرېز قتل شوی او يو سيك زخمي شوی دی.

دغسې د بختنامې له لاسه د انګرېز وژلو خبره خان شهيد پۀ خپل سوانح عمري کښې داسې کوي:

"ناپېښه دا وه چې کله بخت نامه د دهٔ پهٔ مرګ خبره شوې وه نو له دې ډاره چې اوس خو به پښتانهٔ هیڅ کله ما بې وادهٔ پرېږدي نه او زهٔ د امیرجانه پس بل مېړه نهٔ کوم او نهٔ یې کولای شم. دا ځوانه، ښکلې او ډېره سوکړه ښځه وه نور خو پرېږده خپله سردار زرغون خان جوګیزی دې ته ناست ؤ چې دا د ځان کړي ځکه دې د ډېره سوچه پس دا پرېکړه کړې وه چې زهٔ د امیر جان غم ته بل ځای نهٔ شم اوزګارېدلی بې جېله او جېل له ما ځوك نهٔ بیايي تر څو چې ما ډېر غټ تور پهٔ زیاته بیا سرکاري تاوان نهٔ وي کړی نو د سردار له کوره چیرې چې د جرګې له مخې د امیر جان پهٔ ژوند اوسېدله هغه توپنچه را اخستې او د قلعه سیف الله بازار له راغلې وه. زړهٔ یې دا وو چې څوك سیك سرکاري نوکر بهٔ وژنې. دا ځکه چې یو خو د احمد شاه بابا او سیکانو د جنګو راهیسې د سیکانو او پښتنو تر میان تل جنګ راغلی دی نو پښتانهٔ پهٔ ټول هیندکې قامو کښې سیکان خپل زیات دښمنان ګڼي او بل ځکه چې پهٔ دې او امیرجان پسې د تېښتې او نیولو پهٔ پلا چې کوم پولیس وتلي وو د هغو افیسر او زیاتره سپاهیان سیکان وو. نو بخت نامه وار له واره هغه له ورغلې وه چې مړ یې کړي، ښهٔ نژدې ورته کښېنستلې وه او پهٔ پړوني کښې یې دننه توپنچه ورته برابره کړې وه چې ویشت یې خو ځکه چې بیا هم بهادره پښتنه وه پام یې کړی دی چې دا سړی که څهٔ هم سیك او سرکاري سړی دی او زما د جېل مراد هم پهٔ پوره کېږي خو ځکه چې دی د پښتنو او د خدای د پیدا (مخلوق) خسمانه کوي نو د دهٔ مرګ بد کار دی چرې بل سیك کتل پهٔکار دی نو هغه یې پرې ایښی ؤ او ترې راوتلې وه او پهٔ بازار کښې دوه که درې نور سیکان یې ویشتلي وو چې یو پهٔ کښې د پولیسو سپاهي ؤ او هغه مړ شو، دا یې ونیوله او جرګې اوږد بند ورکړ چې د دې مراد ؤ"(10).

خان شهید عبدالصمد اڅکزی هغه څوك دی چې پهٔ باقاعده د امیر جان د مچ پهٔ جېل کښې د قید پهٔ وخت هم هلته موجود ؤ ځکه چې خان شهید د پښتنو د قامي تحریك مشر ؤ او هغه وخت د پښتني سیاسي غورځنګ پهٔ تور نیول شوی ؤ او د مچ پهٔ جېل کښې له امیر جان سره ملګری ؤ. د خان شهید خبره ځکه زیاته د منلو وړ ده چې هغهٔ دغه ټول حال پهٔ خپلو سترګو لیدلی دی. او هرڅهٔ چې یې لیدلي او بیان کړي دي هغه ټول حال د پښتنو د ژوند او خوی و خصلت عکاسي کوي، دی هم

د دوو یا دریو انګرېزانو د ویشتلو خبره کوي خو د عبدالرحمٰن غور دغه خبره چې درې سره انګرېزان ووژل شول د خان شهید او سید خیر محمد عارف له خبرو سره چې درې انګرېزان وویشتل شول یو مړ شو او نور زخمیان شوو پهٔ جزئي توګه توپیر لري.

د عبدالرحمٰن غور او سید خیر محمد عارف دواړو له څېړنې معلومېږي چې بختنامه هغه وخت جېل ته تللې وه کله چې امیر جان لا ژوندی ؤ او بختنامې د امیر جان د را خلاصولو پهٔ اړه پهٔ وار وار انګرېز افیسر ته درخواست کړی ؤ خو هغه د دې خبره نظر انداز کړې وه او دا پهٔ دې مجبوره شوه چې یو داسې کار وکړي چې د هغهٔ پهٔ سوب دا هم له امیر جان سره پهٔ جېل کښې یو ځای ژوند تېر کړي. پهٔ دغه حواله عبدالرحمٰن غور لیکي:

"دې پهٔ هر قیمت خپل مېړه خلاصول غوښتل او د دې پهٔ نزد د خپل مقصد د تکمیل تر ټولو لویه ذریعه انتقام ؤ نو ځکه دې انتقام واخستئ. یوه ورځ یو انګرېز افیسر د کلي مشر پهٔ کور کښې مېلمه شو. بختنامه هم و هغهٔ مشر ته د حفاظت دپاره سپارل شوې وه ... د ریسټ هاؤس پهٔ لان کښې درې انګرېزانو او یوهٔ سیك افیسر د ټېنس بازۍ کوله بختنامه دوی ته ورنزدې شوه او د انګرېز افیسر څخه یې د خپل مېړه امیر خان د خوشي کولو غوښتنه وکړه هغوئ دا خیال وکړ چې دا یوه ناپوهه پېغله ده نو ځکه پهٔ سپکه یې د هغه ځای څخه د تلو دپاره ورته ووئیل خو دغه د بختنامې د انتقام جذبه نوره هم تېزه شوې وه څهٔ وخت چې دوی د ټېنس بازۍ ختم کړه او د ریسټ هاؤس برامدې ته ولاړل نو بخت نامې پرله پسې پهٔ درې سره انګرېزانو ټکان وکړل...(11).

د بختنامې چې د انګرېز د وژلو کوم مقصد ؤ هغه مقصد سید خیر محمد عارف هم د عبدالرحمٰن غور غوندې بیان کړی دی او دی لیکښې:

"بختنامه له هسپتال څخه پټه ووته سرکټ هاؤس ته ورغله پهٔ سرکټ هاؤس کښې هغه حاکم هم موجود ؤ چا چې د بختنامې جائز درخواست پهٔ حقارت سره ټکراؤ کړی ؤ. بختنامې دلته هم و متعلقه افیسر ته خواست او زارۍ وکړې چې زموږ ګرد کور

ویجاړ شو له ما سره انصاف وکړه او امیر خان را پرېږده خو هغه حاکم او د هغهٔ ملګري پهٔ هغه ډول پر خپله خبره ولاړ وو. او بختنامې ته یې سکرټ جواب ورکړو، بخت نامې ته بله لاره نهٔ شوه ور پاته هغه توپنچه یې را واخسته پر انګرېز او سیك باندې ئي ټکان وکړل سیك او انګرېز دواړه ولګېدو چې اخیر انګرېز مړ شو"(12).

د سید خیر محمد عارف او عبدالرحمٰن غور له پورتنیو دوو حوالو څرګنده شوه چې بختنامه د امیر جان پهٔ ژوند لا جېل ته تللې وه او جېل ته د تللو مقصد یې دا ؤ چې امیر جان هم هلته پهٔ جېل کښې ؤ او حال داسې نهٔ دی لومړی خو بختنامه پهٔ داسې حال کښې جېل ته نهٔ ده تللې چې امیر جان ژوندی ؤ او پهٔ جېل کښې ؤ، بلکې کله چې د امیر جان د مړینې معلومات بختنامې ته وشو نو د دې ژوند تریخ شو او د کلي له مشر څخه یې هم د نکاح او وادهٔ کولو خطره محسوسوله ځکه یې دا غوښتل چې بس پهٔ هغه ځای کښې مرګ راشي پهٔ کوم ځای کښې چې امیر جان وفات شوی ؤ.

خان شهید د بختنامې جېل ته تللو وجه جلا بیانوي او د پښتنې غیرت او مینې یو ژوندی مثال یې وړاندې کړی دی د پښتنو د غیرتمنو ښځو حال یې کټ مټ له حقیقت سره سم وئیلی دی او د پښتنې مزاج مطابق وئیلی دی ده. دی د بختنامې د قید کېدو علت داسې لیکي:

"ناپېښنه دا وه چې کله بخت نامه د دهٔ پهٔ مرګ خبره شوې وه نو له دې ډاره چې اوس خو به پښتنانهٔ هیڅ کله ما بې وادهٔ پرېږدي نهٔ او زهٔ د امیرجانه پس بل مېړه نهٔ کوم او نهٔ یې کولای شم. دا ځوانه، ښکلې او ډېره سوکړه ښځه وه نور خو پرېږده خپله سردار زرغون خان جوګیزی دې ته ناست ؤ چې دا د ځان کړي ځکه دې د ډېره سوچه پس دا پرېکړه کړې وه چې زهٔ د امیر جان غم ته بل ځای نهٔ شم اوزګارېدلی بې جېله او جېل له ما څوك نهٔ بیایي تر څو چې ما ډېر غټ تور پهٔ زیاته بیا سرکاري تاوان نهٔ وي کړی نو د سردار له کوره چرې چې د جرګې له مخې د امیر جان پهٔ ژوند اوسېدله هغه توپنچه را اخستې او د قلعه سیف الله بازار له راغلې وه زرهٔ یې دا وو چې څوك سیك سرکاري نوکر به وژني.... او پهٔ بازار کښې دوه که درې نور سیکان ویشتلي وو چې

یو پهٔکښې د پولیسو سپاهي وو او هغه مړ شو، دا یې ونیوله او جرګې اوږد بند ورکړ چې د دې مراد ؤ"(13).

د عبدالرحمٰن غور پهٔ مضمون کښې د بختنامې او د امیر جان د داستان بنیاد له غاړو سره سره پهٔ فرضي ټپو هم ولاړ دی، دهٔ چې دغه رښتونی د مینې داستان پهٔکومو ټپو مزین کړی دی هغه ټپې پهٔ حقیقت کښې هم د داستان له موضوع سره سمون خوري او دا د عبدالرحمٰن غور خپل صلاحیت دی چې ټپې له کیسې سره سمې را رواني دي مګر د داستان برخه نهٔ شي کېدای ځکه چې ټپې د جنوبي پښتونخوا د پښتنو اولسي صنف نهٔ دی بلکې د بختنامې داستان بنیاد پهٔ غاړو درېدای شي ولې چې بختنامه د قلعه سیف الله اوسېدونکې وه او دغه سیمه د هغو کاکړانو مرکز دی کومو ته چې پهٔ غاړو کښې یو ډول امتیازي حېثیت حاصل دی. ټپې خو د جنوبي پښتونخوا پر ځای د شمالي پښتونخوا یا د خېبر پښتونخوا د اولسي ادب لویه سرمایه ده او هلته پهٔ ټپو باندې بېلا بېلو کسانو د ایم فل او پي ایچ ډي ډګرۍ اخستې دي. که چرې سید خیر محمد عارف د عبدالرحمٰن غور دغه مضمون وئیلی وای نو شاید چې د غاړو او ټپو پهٔ بنیاد باندې ولاړ د اولسي ادب صنفي عمارتونو پهٔاړه به یې ښهٔ څېړنه کړې وای. عبدالرحمٰن غور لیکي:

"دې دا عهد وکړ چې هر څهٔ چې وي خپل مېړه بهٔ د انګرېزانو د قید څخه خلاصوم نو ځکه دا د موقعې پهٔ تلاش کښې وه او د یوهٔ ساعت دپاره یې خپل مېړه د زړهٔ څخه نهٔ وتئ، د امیر خان یادونه بهٔ د دې پهٔ زړهٔ کښې تلل راتلل، یو ځای د دهٔ پهٔ یاد کښې وایي:

راشه چې پهٔ زلفو کښې دي پټ کړم
چې دښمنان دي پهٔ لټولو ستړي شینه(14)

بل ځای لیکي:

لاکن دې تر اخيره پورې خپله مطالبه کوله خو د دې خبرې ته چا غوږ نۀ نيوئ څۀ وخت چې دې ته يقين شو چې د دې مجاهد محبوب امير خان به نۀ پرېښنول کېږي نو دې ناره کړه چې:

د پيرنګي بچې قيمه شه
چې يو اشنا د بل اشنا نه بېلوينه(15)

پۀ اخير غور صاحب ليکي:

يوه ورځ دا خبر راغی چې امير خان د مچ پۀ جېل کښې وفات شو، د دې خبر پۀاورېدو بخت نامې د صبر لمن د لاسه ورکړه او شپۀاو ورځ به ژړېدله او د خپل مجاهد محبوب پۀ باره کښې يې داسې نارې وهلې:

خلقو زړې يارۍ تازه کړې
زما پۀ نوې يارۍ اور ولګېدونه (16)

د عبدالرحمن دغه له ځانه ورکړل شوې يا جوړې شوې ټپې ځکه د منلو وړ نۀ دي چې يو خو ټپۀ د هغې سيمې پيداوار نۀ ده پۀ کومه سيمه کښې امير جان او بخت نامې ژوند کاوۀ او بل داسې معلومېږي چې دغه ټپې عبدالرحمٰن غور ګرسره له ځانه جوړې کړې وي ځکه چې د لومړيو دواړو ټپو پۀ بحر کښې رواني نشته او سېلابونه پۀکښې زيات شوي دي دا داسې رنګ ښکاره کوي لکه يو سړی چې شاعر نۀ وي بيا هم شعر ليکي او پۀ کوم صنف کښې چې شعر ليکي د هغه صنف د بحر نۀ اندازه ورته کيږي او نۀ پۀ خبر وي.

د بختنامې داستان چې د امير جان له خولې او د بختنامې د ژوند له حالاتو پۀ بالواسطه يا بلا واسطه توګه پۀ لومړی وار خان شهيد بيان کړی دی چې له امير جان سره د مچ پۀ جېل کښې پۀ يوه بارك کښې ملګری پاته شوی دی او پۀ همدغه مچ جېل کښې پۀ دويم وار د بختنامې له حاله د چا ملګري له خولې خبر شوی ؤ او امکان شته چې له بخت نامې سره به يې ليدلي هم وي. ځکه چې خان

شهيد وايي بيا لس مياشتې موږ پۀ هغه بارك كښې تېرې كړې زموږ او د بخت نامې د بارك تر ميان يو دېوال ؤ خو موږ د دې درنې پښتنې پۀ زوره ږغ هم نۀ دى اورېدلى او له دې نږدېکت سره سره بيا وايي چې يو وخت ارباب عبدالقادر كاسى پۀ قامي تور كښې دلته يو كال بندي شوى ؤ او يو وخت يې بهوك هړتال كړى ؤ نو دغه مېړه مخې پښتنې (بخت نامې) د خپلې پښتونولۍ او قامي ننګ له مخې ځان پۀ خبر كړى ؤ او موږ يې باهر پۀ خبر كړلو او بيا تر پايه يې د دۀ او باهر دنيا تر ميان د خط خبر كار كاوۀ.

د خان شهيد پۀکېسه كښې يوه غاړه هم نشته خو سيد خير محمد عارف پۀ خپل مضمون كښې دغه ډېر د ستاينې وړ كار كړى دى چې د بخت نامې او امير جان داستان يې د خان شهيد له خولې د وئيل شوي حال مطابق بيان كړى دى. خو وروسره ورسره يې هغه غاړې هم راوړې دي چې پۀ كوم مقام وئيل شوې دي او د داستان بنياد وربانديې ولاړ دى. دغو غاړو داستان تۀ نور ډېر خوند او رښتونى رنګ وربخښلى دى.

عبدالرحمٰن غور وايي چې بختنامه چې له جېله خوشې كړل شوه نو دا يې بېرته د كلي هغه سردار ته واستوله كوم ته چې دا د امير جان له نيولو وروسته حواله شوې وه، خو د سيد خير محمد عارف او خان شهيد له ليكنو معلومېږي چې د بختنامې ژوند د جېل له خوشې كېدو وروسته معلوم نۀ دى چې څنګه او چيرې تېر شوى دى. دوى دواړه وايي چې د بخت نامې پاته عمر د ګمنامې پۀ كنډوالو كښې تېر شو. كومه خبره چې عبدالرحمٰن غور كوي چې بېرته سردار ته وسپارل شوه دا پۀ تاريخي لحاظ هيڅ ثبوت نۀ لري او نۀ پۀ دغه باره كښې كومه غاړه يا بل دليل له موږ سره موجود شته.

سيد خير محمد عارف د بختنامې له جېله خوشې كېدو وروسته ژوند داسې ليكلى دى:

"كله چې د بخت نامې د جېل او غزا كولو ازانګې تر لرې لرې پورې ورسېدې نو له هرې خوا څخه پر انګريز سركار تنقيدونه شروع شو او يو قسم د بلوې كېفيت پيدا

شو چې د هغهٔ له جهته بخت نامه انګرېز سرکار خوشې کړه خو د خوشې کېدو سره سم د خپل مېړه امير خان د مرګ زېرى هم ورباندې وشو خو د بخت نامې پاته عمر د ګمنامۍ په‌کنډوالو کښې تېر شو"(17)

خان شهيد ليکې چې بختنامه په اخير وخت کښې له جېله را خوشې شوه مګر ډېره کمزورې وه او هغه وخت بيا دا د وادهٔ کولو تر وخت تېره شوې وه او د عمر په وروستۍ مرحلو کښې وه له را خوشې کېدو وروسته مشر يا سردار ته د وادهٔ کېدو خبره خان شهيد نهٔ ده کړې او سيد خير محمد عارف هم ليکې چې د ژوند وروستۍ شپې يې د ګمنامۍ په تيارو کښې دي.

د سيد خير محمد عارف له پورتنۍ حوالې دا هم ښکاره کېږي چې بختنامه کله له جېله خوشې شوه نو د امير جان په مرګ خبره شوه خو عبدالرحمٰن غور وايي چې يوه ورځ دا خبر راغى چې امير خان د مچ په جېل کښې وفات شو، د دې خبر په اورېدو بخت نامې د صبر لمن د لاسه ورکړه او شپهٔ او ورځ به ژړېدله خو چې سيد خير محمد عارف په پاڅون رساله کښې مضمون ليکې او د خان شهيد د سوانح عمرې له پاڼو استفاده کوي او خپلې تاريخي تېروتنې سموي نو د دې ذکر يې هم بايد کړى واى چې بخت نامه هغه وخت جېل ته ولاړه چې د امير جان په مرګ خبره شوه او نور يې ژوند کولو ته زړهٔ نهٔ کېدهٔ. بس د مرګ د نېټې پهٔ انتظار وه او جېل ته د تلو اصل مقصد يې هم دغه ؤ چې د امير جان د غم غلطولو دپاره پهٔ يو خالي ځاى کښې ژوند تېر کړي.

## حوالې

(1) غور، عبدالرحمٰن، بختنامه، مشموله اولس مجله اکتوبر 1975ء، م 37، 38.

(2) عارف سید خیر محمد، خان شهید او بختنامه، مشموله پاڅون، جلد 6، ګڼه 3مه مارچ او اپرېل 2011ء، م5.

(3) زلمی، محمد ولي، زموږ غازیان، د افغانستان د علومو اکېډمی، کابل، د اسد میاشت، کال 1368، م232.

(4) غور، عبدالرحمٰن، م38.

(5) عارف، سید خیر محمد، زموږ غازیان او شهیدان، پښتو اکېډمی کوټه، مئ 2000ء، م 191.

(6) شهید، خان عبدالصمد خان اڅکزی، زما ژوند او ژوندون، دویم ټوك، یونائټډ پریس کوټه، 2004ء، م 224، 225.

(7) هم دغهً، م227.

(8) غور، عبدالرحمٰن، بختنامه، م37.

(9) عارف، سید خیر محمد، زموږ غازیان او شهیدان، م192.

(10) شهید، خان عبدالصمد خان اڅکزی، م 227.

(11) غور، عبدالرحمٰن، م38، 39.

(12) عارف، سید خیر محمد، زموږ غازیان او شهیدان، م192، 193.

(13) شهید، خان عبدالصمد خان اڅکزی، م227.

(14) غور، عبدالرحمن، م38.

(15) هم دغهٔ، م41.

(16) هم دغه، م41

(17) عارف، سید خیر محمد، زموږ غازیان او شهیدان، م194.